


# کتاب او که د ژوند
# ریښتني ملګری

Ketabton.com

لیکوال: ضیاءالرحمن ذهین

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

# لړ لیک


خلاصه ........ 4

سریزه ........ 5

د کتاب پیژندنه: ........ 6

د کتاب ارزښت او اهمیت: ........ 6

کتاب د علمي پوهې وسیله ده ........ 6

فکري پراختیا ........ 6

د کلتور او تاریخ ساتنه ........ 6

د ټولنیزو اړیکو پیاوړتیا ........ 7

د کتاب لوستلو هدف: ........ 7

د انسان په شخصیت د کتاب اغیز: ........ 7

د نوي پیښو تجربه کول ........ 7

له پرمختګ سره مرسته ........ 7

د ارامۍ احساس ........ 7

کومې لارې کولای شي کتاب لوستلو ته مو تشویق کړي؟ ........ 7

پایله: ........ 8

ماخذونه: ........ 9

ketabton.com - The Digital Library


## خلاصه

کتاب یو چاپ شوي او ډیجیټل ماده ده، چې د ځانګړو موضوعاتو په اړه او یا هم سیاسي، فرهنګي، آدبي، تاریخي او یا فکري چارو په اړه معلومات، افکار او نظرونه وړاندې کوي. د کتاب ارزښت او اهمیت ته په کتو سره کتاب د انسان د ژوند هغه نمګړي برخه ده، چې بغیر له کتاب څخه په هیڅ صورت سره نه بشپړېږي. کتاب یو داسي وسیله ده چې د انسان په ژوند باندې مثبته اغیزه کوي. د انسان روح او ژوند ته سکون ورکوي. د کتاب لوستلو هدف یوازي د نویو معلوماتو ترلاسه کول نه دي، بلکې د انسان شخصیت جوړونه یې له مهمو اهدافو څخه ګڼل کیږي.



**کلیدې ټکي: کتاب، د کتاب اهمیت او هدف، د انسان په شخصیت اغیز**

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

کتابونه د انسان د پرمختتګ او فرهنګي ودې لپاره اړين دي. کتاب يوازې د علم او پوهې سرچينه نه ده، بلکې د تفریح، آرام او فکري ورزښت لپاره  هم کارول کیږي، او د بیلابیلو موضوعاتو په اړه وي. لکه دیني، فرهنګي، تاريخي، داستاني او داسي نور...

کتابونه د انسان په ژوند کې ډېر ارزښت او اهميت لري. کتاب په وسيله د انسان په علم او پوهه کې زياتوالي راځي، سربېره پر دې کتابونه د تفريح او سرګرمۍ لپاره تر ټولو مهمه او موثره منبع ده، چې کولاي شي په يو وخت کې د انسان لپاره هم د تفريح زمينه مساعده کړي، او هم يې په علم او پوهې کې زياتوالي راولي. هر انسان په دې مکلف ده چې د کتاب له مطالعې سره ځان عادت کړي، تر څو ژوند په يوه بهترينه طريقه سره پر مخ يوسي.

په دغه لنډه څېړنه کې د کتاب اړوند عمومي معلومات وړاندې شوي، سربېره پر دې د کتاب لوستلو هدف، د کتاب اهميت او ارزښت، د انسان په شخصيت د کتاب اغيز او همدارنګه په هغو لارو چارو  بحث شوي، چې څنګه کولاي شو له کتاب او مطالعې سره ځان عادت کړو؟

ضياءالرحمن ذهين

۱۴۰۳ هـ ش

ketabton.com - The Digital Library

## د کتاب پېژندنه:

کتاب یو چاپ شوي او ډیجیټل ماده ده چې د ځانګړو موضوعاتو په اړه او یا هم سیاسي، فرهنګي، آدبي، تاریخي او یا فکري چارو په اړه معلومات، افکار او نظرونه وړاندې کوي.

کتاب په ګڼو برخو ویشل کیږي. لکه آدبیات، فلسفه، دیني او داسي نور چې په هر برخه کې د هغې موضوع اړوند معلومات او محتوا توضیح او تشریح کیږي. د کتابونو حجم ثابت نه دي، موضوع ته کتو سره د کتاب حجم تعین کیږي، که چیري یو موضوع ډیره پراخه وي نو دا طبعي ده چې دکتاب حجم به هم لوی وي.

کتاب په ظاهري بڼه د سپینو پاڼو هغه مجموعه ده، چې په تورو ټکو پوښل شوي وي، خو که معنویت ته یې وکتل شي او په ریښتنې ډول درک شي، نو بیا کتاب د انسان د ژوند هغه پایه ده، چې یې له دې د انسان ژوند نمګړي او بې هدفه وي. کتاب د ژوند په سرګردانیو کې هغه ملګری ده، چې بیغیر له کوم لګښت داسي مشوري او لارښوني درکوي، چې په هغه سره انسان د دونیا او اخرت نیکمرغۍ ته رسیږي.

## د کتاب ارزښت او اهمیت:

کتاب د ټولنې په بیلابیلو برخو کې ژور اغیز لري، کتاب د علم پوهې، فرهنګ، تاریخ، هنر او ټولنیزي پراختیا وسیله ده، چې د افرادو به ذهني او فکري وده کې خورا مهم رول لوبوي.کتاب د انسان د ژوند په دورانونو کې دومر ارزښت او اهمیت لري، چې څوک نشي کولاي د قلم په څوکه یې بیان کړي، خو بیا هم مونږ دلته ځیني ځانګړو برخوته په لنډ ډول اشاره کوو.

### کتاب د علمي پوهې وسیله ده

کتابونه د نړۍ د ټولو علومو، نظریاتو او مفاهمو یوه مهمه سرچینه ده، چې وسیله یې مونږ کولاي شو د پوهانو تجربو،کړنو او لاسته راوړنو څخه خبر سو، او هغه په خپله ګټه وکار وو.

همدارنګه د کتاب په وسیله مونږ کولاي سو په دین، ساینس، فرهنګ، آدب، فلسفې او داسي نورو موضوعاتو کې پوهه ترلاسه کړو. که چیري کتاب نه واي نو مونږ به څنګه د تیرو پوهانو له تجربو څخه استفاده کوله؟ که په لنډو ټکو کېووایم. څنګه به مو د ژوند ستونزي حل کولې؟

### فکري پراختیا

کتابونه د لوستونکو ذهن ته نوي افکار او نظریات وړاندې کوي. کتاب لوستل د انسان ذهن پراخوي، او په یو موضوع باندې د تفصل کولو جرآت ورکوي. که چیري څوک مطالعه ولري نو هغه کولاي شي چې په یو ځای یا مجلس کې په یوه موضوع باندې په ډاډه زړه خبري وکړي، او که چیري بر عکس وي نو بیا نشي کولاي چې موضوع درک اوعمق ته یې ځان ورسوي.

### د کلتور او تاریخ ساتنه

کتابونه هغه څه دي چې زمونږ تیر تاریخ او کلتور یې په خپله پراخه غیږ کې ساتلي، او هر وخت چې مونږ وغواړو د خپل تیر تاریخ او کلتور په اړه معلومات ورڅخه اخستلي سو. تاسي فکر وکړي که چیري کتاب نه واې نو مونږ د خپل نبي کریمﷺ له مبارک سیرت څخه څنګه خبر شوي واي؟ که چیري کتاب نه واي نو مونږ به د تیرو ټولنو او حکومتونو له دودونو او رواجونو څخه څنګه خبر شوي واي؟ همدارنګه که چیري کتاب نه واي نو مونږ به خپلې تجربې له راتلونکي نسل سره څنګه شریکوالې؟ نو بناً ددغو ټولو وسیله یوازي او یوازي کتاب دي. کتاب کولاي شي زمونږ نمګړي ژوند پوره او له خوښیو ډک کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د ټولنیزو اړیکو پیاوړتیا**

کتابونه د افرادو ترمنځ د افکارو او نظریاتو تبادله اسانه کوي، ځکه کله چې یو کس د بل کس کتاب لولي د هغه له افکار او نظریاتو څخه خبریږي، چې دیته یو ډول اړیکه ویل کیږي. او بله دا چې کتاب د افرادو ترمنځ داسي صمیمانه فضا رامنځته کوي، چې د اړیکو دټنګولو لپاره له هر اړخ څخه جوړه او مناسبه وي.

## د کتاب لوستلو هدف:

کتاب لوستل د انسان په فکري، ذهني او روحاني وده کې خورا مهم رول لري. دکتاب لوستلو هدف یوازې د نوي معلوماتو ترلاسه کول نه دي، بلکې د فرد په شخصیت جوړونه، د ټولنیزو ستونزو حل، د نوي نړۍ او د هغو د پر مختګونو او تجربو په اړه د ژوري پوهي ترلاسه کولو یوه مهمه وسیله ده. لکه څنګه مو چې مخکې وویل کتاب د انسان ذهن ته پراختیا ورکوي، د انسان د لغاتونو پانګه بډایه کوي. د انسان خبري او الفاظ د معیار په کچه وي. خو تر ټولو مهم هدف یې د اخلاقو بدلون دي، ځکه کتاب یوه داسي وسیله ده چې د انسان د اخلاقو په بدلولو او جوړولو کې ژور او هر اړخیز رول لري.

## د انسان په شخصیت د کتاب اغیز:

کتا ب هغه وسیله ده چې د انسان په شخصیت باندې مثبته اغیزه کوي. که وکتل شي نوري وسیلي چې څومره د انسان په شخصیت مثبته اغیزه کوي، هغومره تر شا منفي اغیزې په خپل ځای پریږدي، چې ښه مثال یې په اوس وخت کې فسبوک، ټکټاک او نوري وسیلي دي. کتاب داسي وسیله ده چې د انسان شخصیت دکمال تر لوړو درجو رسوي، هم د انسان ظاهر او هم باطن ښکلي کوي. د انسان قدر لوړوي انسان په خپل ځان ډاډ او باور ترلاسه کوي. دلته ځینو نقطو ته په لنډ ډول اشاره کوو.

**د نوي پیښو تجربه کول**

کتاب په وسیله سره مونږ کولای شو له نویو پیښو او تجربو څخه خبر سو، او په اړه یې بشپړ معلومات ترلاسه کړو.

**له پرمختګ سره مرسته**

کتاب کولای شي انسان د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي، ځکه د بل پرمختللي انسان تجربي لولي د هغه له افکارو او نظریاتو څخه مستفید کیږي، او هڅه کوي د هغه په بڼه ځان جوړ کړي.

**د ارامي احساس**

دکتاب مطالعه د انسان ژوند او روح ته سکون ورکوي. په سختو حالاتو کې ورسره مرسته کوي. هیڅکله دې یوازې نه پریږدي. هر درد درسره زخمي او هري اوښکي ته دې ډیر په صبر انتظار کوي. نو تاسي فکر وکړي چې له داسي یو ملګري سره د انسان ژوند او روح سکون نه پیدا کوي.

## کومي لاري کولای شي کتاب لوستلو ته مو تشویق کړي؟

په دې برخه کې ډیري لاري چاري وړاندې شوي دي، چې کولای شي کتاب لوستلو ته مو تشویق کړي، او په دې برخه مې موثر هم تماميږي. خو زه وایم تر ټولو هغه لار بهتره ده چې انسان یې په خپله د ځان لپاره ټاکي، او وخت په وخت ورنه استفاده کوي، تر څو د کتاب لوستلو سره عادي شي.

بله داچې په لومړیو وختونو کې انسان باید د خپلي خوښي او علاقي وړ موضوعات انتخاب کړي. تر څو د مطالعه په جریان کې یې زړه تنګ او ستړي نشي. ځکه که چیرې د خوښي موضوع نه وي نو دا طبعي خبره ده چې انسان خسته کیږي. ناولونه او یاهم داستاني ادبیاتو ته پاملرنه هم کولای شي په دې برخه کې موثر تمام شي ځکه داستان یو ډول تلوسه له ځانه سره لري. کله چې لوستونکی په خپله تلوسه کې ورسره واخلي

ketabton.com - The Digital Library

نو بیا وخت ته پام نه وي، چې څنګه تیریږي کله يې پام شي زيات وخت مطالعه يې کړي وي، نو په دې ډول کولای شي چې مطالعې سره عادت شي.

## پایله:

په پایله کې داسې ویلای سو چې بغیر له کتاب څخه د انسان ژوند نمګړی او بې هدفه دی. ځکه کتاب د انسان په شخصیت جوړونه کې ډېر مهم او هر اړخیز رول لري. چې تر بل هري وسیلې زيات او اغيزمن دی. د کتاب په وسیله انسان د معیار تر کچې رسيږي. خبري يې وزن او ارزښت پيدا کوي. په ځان ډاډه ترلاسه کوي. کولای شي په هر مجلس کې د يو موضوع په اړه بحث او معلومات وړاندې کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## ماخذونه:


- امانی، غفور، (1376) اهمیت کتاب و کتابخوانی و تاسر مطالعه د روند تکامل جامعه، تحقیقات اطلاع رسانی وکتاب خانهای عمومی زمستان
- شاروخ، افشارنیا، (1353) کتاب در زندگی من، هنری (میلر) نامه انجمن کتابداران، ایران دور هفتم، بهار
- حسن، انصاریان، (1388)، ارزش کتاب و کتابخوانی. دارالعرفان، قم ایران
- https//taaghche.com.blog…
- https//uniketab.com.blog…

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*